# اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به: سهار مهال (دا اذکار) ويېل: «اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: «بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» قَالَ: وَمَرَّةً أُخْرَى: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ». يا الله! ستا په نعمتونو او واکمن کې مو سهار کړ او ستا په نعمتونو او واکمن کې مو ښېګا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو او (له مرګ نه وروسته ستا لور ته) بيا پاڅېدل دي، واېي او بل ځل يې ووېل: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» او ستا په لور وروستی منزل دی.
[حسن]

کله به چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم سهار شو؛ چې هغه د سهار له راختو سره د ورځې پېل دی نو ويېل به يې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا) يا الله پر تا مو سبا کړ، يعني ستا په ساتنه او ستا په نعمت کې ډوب يو، ستا په يادولو بوخت يو، ستا پر نوم مرسته غواړو، ستا په نعمتونو کې شامل يو، ستا په مرسته او ځواک حرکت کوونکي يو، (وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ) (او پر تا مو ښېګا کړ او پر تا ژوندي کېږو او پر تا مرو) د دې جملې معنی هم لکه د تېرې په څېر ده، سر ېېره پر دې چې ښېګا مهال به يې ويېل: يا الله ستا پر نوم مو ښېګا کړ، نو ستا په محيی (ژوند ښښونکي) نوم سره ژوندي کېږو، او ستا په (المميت) يعني مرګ ورکوونکي نوم سره مړه کېږو. (وَإِلَيْكَ النُّشُورُ) او ستا لور ته له مرګ نه وروسته پورته کېدل دي، او له يو ځای کېدو وروسته جلا کېدل دي، زموږ دا حالات به په ټولو وختونو کې په همدې توګه مخته ځي او په هېڅ حال به ترې جلا نه شم او نه به يې پرېږدم. او کله چې پرې له مازديګر نه وروسته ښېګا مهال راغی وييل به يې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبكَ أصبحنا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ المَصِيْر) يا الله! ستا په نوم مو ښېګا کړ او ستا په نوم مو سبا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو، او له مرګ نه وروسته ستا لور ته بېرته پورته کېدل دي، په دنيا کې بېرته ستنېدل او په اخرت کې بېرته درګرځېدل دي، نو همدا ته يې چې ژوند راکوې او همدا ته يې چې مرګ راکوې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5490

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee